عبدالاحد سرتیپ، کندهار ۲۰۱۴/۰۱/۱۷

# ښه ځوانی(جوانمردی)څه ته وایی؟
## دوهمه، وروستی برخه

**د ښو ځوانانو مسلکی ویش**

ښه ځوانان سره له دی چی په عمومی ډول داسی خویونه لری چی یوتربله ډیر فرق نه لری ټولی ډلی دټینګی ارادی، دینداری، پخی ملګرتیا، صداقت پروعده، ټینګوالی، صبر، سخا اومیلمه پالنه کی سره ورته دی او یو د بل ډیراحترام لری اوتربله ډیرنږدی اړیکی لری خو د ځینواجتماعی اومسلکی چاروکی څه فرقونه لری چی د اجتماعی موقف په لحاظ په دری برخوویشلای سو.

الف: اجتماعی ډله(ښه ځوانان) چی دوی دسترخوان اومیلمه پالنی ستوری دی.
ب: نظامی ډله (پایلوچان): دا ډله په ځان اوپه خوله ډیرټینګ خلک دی.
ج: روحانی ډله (د تصوف استادان) دا ډله په ذکر اوفکرکی په صبر او تقوا کی نامیان دی.

اول: اجتماعی ډله یی هغه تولنیزخلک دی چی همیشه په تولنیزوکاروکی ترټولوړاندی دی دی خلکوته په کندهاراوپښتنی سیموکی ورته ښه څه ځوانان خوپه په کابل، شمالی، هرات، او مزارشریف کی ورته جوانمردان وايي:دا ډله زیات د خلکو سره په اجتماعی چاروکی مرسته کوی.
دوهم: نظامی ډله: دا ډله سره له دی چی په سخا وفا او وعده او خرابات کی د ښوځوانانو سره یوډول خویونه لری خو د دی په څنګ کی دوی په ګرولایی او چریکی جګړو کی ډیرغښتلی د ځان او غریبا نو د حق نه کله ناکله د برچی په زور دفاع کوی دی ډلی ته په لوی کندهار کی پایلوچان خو په کابل، هرات، مزارشریف، اوشمال کی ورته کاکه ګان وايي:اوپه تأریخ کی ورته عیاران وایی.
دریم: روحانی ډله هم په عمومی اخلاقو کی ښه ځوانانو او کاکه ګانوته په ټینګ عزم پاکه دامنی صداقت صبراو سخا کی ورته خویونه لری خو دوی بیا د تصوف خواته ډیره توجه لری لکه څنګه چی ښه ځوانان په ولسی ښی ګټوسمبا ل دی او پایلوچان په نظامی کارو کی نامیان دی همداسی یی روحانی ډله په تصوف، پرهیزګاری، تقوا اوذکر کی وتلی اومنلی خلک دی چی موږ د دی ډلی لوی استاد شیخ ابوالحسن خرقانی رحمت الله علیه د مینی سترلاربشود رحمان بابا یادولای سو

په هرصورت دری واړه ډلی یوپه بل باور لری یوبل ته زړه نږدی کوی یوبل ته عقیده اواخلاص لری پالوچان همیشه د ښواوپرهیزګاره خلکو شاکره اوخدمت ګاره خلک دی اوګلک اوایمانداره سخی خلک هم پرتولوګران وی د دوی ښه والی دادی چی دوی د چا و قوم، وطن، ژبی، اونسب ته اعتبارنه ورکوی د هرچا اخلاقو اوغښتلوالی اوپه یاری کی صداقت اوټینګوالی ته ډیر قدرورکوی
د ښی ځوانی استاد سترخوشحال خان فرمایی: «ای انسانه د انسان خوی وکړه که څوک درسره جفا کوی ته ورسره وفا کوه چی څوک درته ښکنځل کوی ته ورته دوعا کوه اوچی څوک غمژن ووینی ورسره ژړاکوه.»
پوهان وايي:هرپیغمبرمکلف دی چی ځوان مرد اوسی اوهرځوانمرد ندی مکلف چی پیغمبراوسی
رحمان بابا فرمایی:
هغه زړه به له توپانه په امان وی چی کښتی غوندی دخلکوباررداړسی

**څو د سترګو لیدلی، کتلی او د ښوځوانانو خاطری**

په یوه ښه ځوان هم د یوه وطن نوم لوړیږی هم د یوه قام رنګ پی ښه کیږی اوکارنامی د یوه ملت د سرلوړی او ویاړ سبب ګرزی او دا ښه ځوانان دی چی خاطری یی د انسانیت په زړونو کی تل ژوندۍ وی اوهرکله چی رایاد سی خلک یی په صفت نه مړیږی.
غواړم هغه څه چی زما مخی ته راغلی دی ما لیدلی اوکتلی دی خوبیلګی ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم مرحوم حاجی مغاش د کندهار د ښوځوانانو وتلی ښه ځوان وو، اصلی نوم یی غریب شاه په قوم اڅګزی او په اڅګزو کی غبیزی وو زما په ۱۳۶۳هجری کال کی د جهاد په وخت کی شناخت ورسره پیدا سو او بلاخره می د جهاد په لیکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

انډيوالی ورسره شروع کړه او د کويټې په ښارکی می د ده په ميلمستون کی اطاق درلود د ده دا عادت وو چی هيڅکه بی اودسه نه ګرزيده يوه ورځ سهار لس بجي وی واوره اوريده هوا ډيره يخه وه حاجی مغاش د ميلمستون په انګړ کی سرګردانه ګرځيده ما فکر وکه چی البته څه شی يی ورک دی پوښتنه می ځينی وکړه چی حاجی صاحب څه شی دی ورک دی؟ ده راته وويل د اوداسه اوبه نسته نلان يخ وهلی دی ماورته وويل حاجی صاحب لس بجی دی د اوداسه وخت نه دی کيدای سی څوک د کوره راوغواړه اوبه به راوړی ده راته وويل چی زه چی اودس ونلرم ناسته او ولاړه اوحتی چای او ډوډی خوند نه راکوی زما په اطاق کی يوه کوزه اوبه وی ورمی کړی، چاراندام اودس يی تازه دومره خوشحاله سوتابه يوغټه تحفه می ورته راوړی وی. زما اطاق ته راغلی ماوربانډی وخندل چی حاجی ډيرخفه وی ولی؟ اوس خو د لمانځه وخت هم نه دي، ده راته وويل: چی زه کله ځوان سوی يم يوشی چی راته ډيرګران دی هغه په اودسه ګرځيدل دی ما ورته وويل: ولی؟ ده راته وويل: ديوه مسلمان اوخصوصاً ديوه مجاهد ټول وخت په عبادت کی تيرېږی عبادت يوازی لمونځ، روژه اوپنځه بناوی ندی که چاته نيکی خبری کوی، چاته ډوډی راباسی، د چا فاتحی ته ځی، چاته اوبه ورکوی چاته سمه لاره ورښييو پرچا نيت ښه کوی، د چا جوړه روغه کوی، وچاته حقيقت وايي:داټول عبادت دی که سړی اودس ولری هم د کاربرکت ډيروی اوهم يی ثواب ډيروی.

د موقع نه په ګټه اخيستلومی پوښتنه ځنی وکړه چی حاجی صاحب غواړم دوی پوښتنی نوری درنه وکړم، خوا خو نه بدوی؟ ده راته وويل چی ولی به خوا بدوم. ما ورنه پوښتنه وکړه: چی ستاپه ميلمستون کی هره ورځ په لس ګونوميلمانه وی ته ولی يواشپز نه دروی چی د دی ميلمنو خدمت وکړی په کور کی ښځی خو ماشومان لری اوستاسی کورنی خلک هم ډيرز يات دی بل د دی ميلمنومسافرو او ټپيانو کالی هم ستاسی په کورکی مينځل کيږی دا خو د کورښځوته ډيرستړياده ده راته وويل: زه چی په دی سپينه ږيره د خدای د پاره می سر پرلاس اخيسيتی دی او د جهاد په سنګرکی پروت يم نو دا ښځی هم مسلمانی دی بايد دوی هم په ثواب او د خدای د لاری په جهاد کی برخه واخلی مسافرو او ميلمنوته ډوډی پخول او د ټپيانو کالی پريولل ډيرثواب لری زما دا ثواب پر دا خپلواولادو پيرزودی.

بله می داپوښته ځينی ورکړه چی تاهم کله کور ډوډی خوړلی ده؟هغه راته وويل چی مريض نه يم او تر کوټی راتلای سم کورکی می ډوډی نه ده خوړلی ما وپوښتل چی ولی؟ هغه راته وويل: د ميلمه قدر او ډوډی ورکول د خدای پاک ته ميلمستياورکول دی څوک چی زماکورته راځی زه بايد ورسره کښينم د مړ او ژوندی پوښتنه يی وکړم د غم اوښادی نه يی ځان خبرکړم او ورسره يوځای ډوډی وخورم که زه کور کی ډوډی خورم نو د مليمنو په زړه کی به څه ورګرځی هغوی به فکرکوی چی ګوره دی به په کورکی څه نعمتونه خوری اومونږته توره ښوروا راليږی چی کله به يی کوټه کی ميلمانه لږ وو فکربه يی خراب و او وويل به يی نن می دا ميلمستون ډير بدی سی ژر به يی يوتن وليږه دکوڅی اوکلی خلک به يی ډوډی ته راوبلل د هغه دا قانون و چی د روژی ټوله مياشت به يی هرشپه وريجی غوښی ميلمنوته ورکولی ماچی به کله د ده ډيرمصارف کتل حيران به سوم چی دا دومره مصرف له کومه پيداکوی کله چی د هغه سره د ملګری څه وخت تيرسوپوه سوم چی د ښو ځوانانو روزی د خلکو په اصطلاح د عثمان غنی د خزانی راځی.

يووخت يی په روژه کی ماته يوه نښانی راکړه چی وربه سی د پاکستان د کويټی د ښار په نوی اډه کی يو حاجی صاحب دی د تايرو تجاردی هغه ته بهووايي:چی دوه لکه کلداری په قرض راکړه زه زوی او مور حج ته ليږم پيسی می کمی دی ترکوچنی اختر وروسته به يی بيرته درکړم. زه چی هغه سړی ته ورغلم ما فکرکاوه چی خدای خبردی څه جواب راکړی؟ خوما چی د حاجی صاحب نښانه دی تجار ته وويله هغه ډير خوشحاله سو اوتجری يی خلاصه کړه څلور لکه کلداری يی راکړی، ماورته وويل چی حاجی صاحب دوه لکه غوښتی دی اوتا څلورلکه راکړی دا ولی؟ هغه راته وويل چی حاجی صاحب ته می سلامونه وايه او ورته ووايه چی دا دوه لکه واخله خپل مشکل پی حل که ماحقی حلالی دربخښلی دی نه يی په دی دنيا غواړم نه په هغه دينا او دا نوری دوه لکه ټپيانو، غريبانو، او مسافروته وويشه ماپوښتنه ځينی وکړه چی دا ولی ته نه ويشی؟ هغه وويل: چی زما او د حاجی صاحب په لاس کی مځکه اواسمان فرق دی. ما پوښتنه ځينی وکړه چی په لاس کی څه فرق وی؟ ده راته وويل زه چی کله چاته پيسی ورکوم يا خير اوخيرات کوم لويی او کبر رانه کيږی او زر وسواسی شيطان په زړه کی را اچوی حاجی مغاش چی د هرچا سره کمک کوی نه څوک په ځان خبروی اونه يی بيا چاته ياد وی اونه کبرځنی کيږی زما يو وخت لاس ډيرتنګ و پوره وړی وم دی خبرسوی وو د شپی کورته راغی پيسی يی راکړی همداسی ولاړ زما لاس وچليدی حريفان او تربورونه، نه سوه راخبر چی د ده د کومی خواپيسی پيداکړی بيا می په زر واره ورته ويلی دی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې داپیسی دی واخله هغه نه دی رانه اخیستی حاجی صاحب د سپین پوښو مسکینانوسره مرسته کوی کوم چی نه چاته ویلای سی اونه د چا زړه ته لویږی چی دا به احتیاج وی د هغه نیت ډیرپاک دی زما ورباندی باوردی ما چی کله پیسی حاجی مغاش ته راوړی ده دوه لکه په هغه ورځ وتیپانو ته ورکړی اونوری دوه لکه یی په کتابچی کی یاداښت کړی یوه میاشت وروسته یی ماته راکړی بیرته می وروړی هغه تجارخوابدی سو اوویل یی چی زه یی نه کوم ورته ووایه چی داهم وخوارانوته وویشه ما خو دربخښلی وی چی ته یی نه اخلی زه څه وکړم پرغریبانویی وویشه ما چی راوړی هغه دستی د چمن ښارته راغلی او په هغه ورځ یی ټولی وویشلی مازدیګریی ماته ویل چی پنځه سوه کالداری راکړه موترمی تیل نه لری ما له یوه دوکانداره قرض کړی او ده ته می ورکړی.
د خداي بخښلي حاجي مغاش دا عادت و چي کله به يي پر چا باندي د ډير غريب شك راغلي نو ده هغه ته به يي لنګه غوا ور رانيوله او غير له مانه به بل هيڅ څوك نه په خبراوي. ما يوه ورځ پوښتنه ځيني وکړه چي ته ولي غريبانو ته نغدي پيسي نه ورکوي؟ نو ده را ته وويل چي کيداي سي چي نغدي پيسي په نورو لارو ځيني مصرف شي خو د غوا د شيدو، مستو، کوچو او شلمبو او غوړو نه به د هغه ټوله کورني او ګاونډيان استفاده کوي خو هر چا ته چي به يي غوا را نيوله دا شرط يي پر ايښودي چي خرڅوي به يي نه. کله چي زما او د ده انډيوالي پيل سوه د ده تر مرګه پوري په دغه موده کي به يي تر سل غواوي غريبانو ته رانيولي وي.
یو داکترمی ملګری وه خو د مهاجرو سره یی ډیره خواخوږی درلوده یوه ورځ یی راته وویل چی په پښین کی می یواشنای دی سبا یی میلمانه یو ته به هم راسره ځی ماپوښتنه ځینی وکړه چی دچا میلمانه یو هغه راته وویل چی محمد اغا نومیږی زما ملګری دی سبا چی هلته ولاړو په دوه جریبه کی یی ملیمستون جوړکړی وډیراطاقونه یی درلوده په ملسمتون کی یوسماوار د چای د ایشولو یوه نانوای د ډوډی د پخولو او یو پخلنځی دکتِغ د پخولو د پاره درلود سړی فکرکاوه چی دا ډیر لوکس هوټل دی د ده کورپه یوه ډیر ښنه سیمه کی پروت و شاوخوایي:اکثره د منو او انګورو باغونه وه د ماښام لمونځ په مسجد کی وکړی اعلان وکړی چی ټول راځی زما میلمستون ته د کلی اکثره خلک هم راغله چی میلمستون ته راغلو ترسل کسه ډیر د باغونو مزدوران ناست وه ټولو میلمنو او کوربه یوځای ډوډی وخوړه ستړی او مزدوران خلک ولاړه ازاد په اطاقو کی ویده سوه محمد اغا او د کلی خلکو ډیرښه خندونکی ټوکی اوباندآرکاوه چی زموږ په لس کاله هم دومره نه وه خندلی
زما ملګری داکتر د محمد آغانه پوښتنه وکړه چی دا دی څه مشکلات ځان ته جوړکړی دی او دومره مصرف کوی؟ ده وویل دری واره می دا میلمستون بند کړی دی دری واره مفلسه او ډیوالی سوی یم مځکه او باغونه می خرڅ سویدی تاوانی سوی یم بیا می قصد کړی دی چی بیا به دانه ترم چی کله می کارسم سویدی بیا خلکو خطا ایستلی یم اوراته ویلی یی دی چی داعبث کاردی. چی کله می د ملمستون دروازه قفل کړیده بیا ډیوالی سوی یم داځل می د خدای سره وعده کړی ده چی ځان خرڅوم خو دا به نه ترم کله می میلمستون خلاص کړی دی بیرته می خدای کار راسم کړیدی کله چی نیت پراخ کړیدی خدای راباندی په کراچی لاهور اوکویته کی ملګری مهربانه کړیدی موتران یی راته رانیولی دی پسی یی راکړی دی باغونه می په رانیولی دی دهغه عقیده داوه چی د رزق برکت میلمه دی ده قصه کوله چی زما ډیرماړه تربورونه دی چی زر واره ترما ډیره دارایی درلوده خو اوس چی یی پوښتنه وکړی په نس نه دی ماړه په داسی حال کی چی په کال کی یی دوه میلمانه نه دی لیدلی خو اوس چی یی ګورم ماته احتیاج دی .
ما ته د محمد اغا ژوند یو عجیب داستان دی هغه د میلمنو دومره قدرکاوه چی سړی به د ځانه شرمیده اودومره به د میلمنوسره خوشاله کیدی تابه ویل چی په ژوند یی هیڅ ډول تکلیف نه دی لیدلی هغه چی به میلمانه راتله دی به پخپله مخی ته ورتلی اوویل به یی دادی دخدای پاک نازولی راغله هغه هم د میلمنو قدر د خدای پاک لوړعبادت باله.
د کندهار د دامان د ولسوالی  دسری کلا حاجی حبیب نکلونه اوکیسی د سلګونو خلکو د خولی اوریدلی دی چی وچه ډوډی به یی په شاکړی وه پرلویه لاره به ولاړو چی کله به یی پریوه مسافر او غریب شک راغلی چی دابه وږی وی هغوی ته یی ورکول.
په ۱۳۶۴هجری کی زه پخپله ایران ته تللی وم یو سهارمی غوښتل چی خیابان فرشتی ته ولاړسم دریشی می واغوستل پیسی می په کالوکی هیری سوی وی کله چی دعمومی سرک غاړی ته راووتم یوه تکسی ته می لاس ورکړی ډیرسپین ږیری ډیریورکی ناست و هغه ودریدی په سل تومنه می ورسره کرایه خلاصه کړه تکسی ته وروختم په لاره تکسی وان رانه پوښتنه وکړه چی د پاکستان یی که د افغانستان؟ ماورته وویل چی د افغانستان یم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ډیرخوشحاله سو د افغانستان د خلکوصفت یی شروع کړی پخپلوخبروکی یی وویل چی د افغانستان ډیرځوانمرد خلک دی ماورته وویل چی ولی؟
ده وویل چی زه په دوهمه نړیواله جګړه کی له شوروی اتحاد نه افغانستان ته راوتښتیدم کابل ته په ډیرو مشکلاتو را ورسیدم نه راسره پیسی وی نه می پاسپورت درلود نه می تذکره درلوده زیات پریشانه اوسرګردانه وم د حکومت نه هم زیات په ویره کی وم د کابل ولایت په ده افغانانو کی یوه سماوارته ورغلم ډیر زهیرناست وم لږ وخت وروسته یو سپین ږیری سړی می څنګ ته کښیناست ډوډی یی خوړه ماته یی ست وکړی ماورته وویل تشکرهغه پوښتنه رانه وکړه چی ولی داسی خوابدی یی زړه می وکړی هغه ته می خپل مشکلات وویل هغه دستی یوه چاینکی راوغوښته پیسی یی ده ورکړی کله چی موډوډی وخوړه دځا نه سره یی کورته بوتلم کوریی په زاړه ښارکی وه کالی یی راته جوړکړه یوه میاشت یی په کورکی وساتلم د افغانستان تذکره یی راته جوړه کړه اوبیا یی افغانی پاسپورت راته جوړکړی پیسی یی راکړی اویوه تجارته چی د ده ملکری و پلاس ورکړم هرات ته یی بوتلم ترسرحد یی راواړلولم اوس چی هرلمونځ کوم هغه دوعاوی کوم کله چی حج ته ولاړم هرګړی به می د ده ځوانمردی ترسترکوکیده ترټولومی زیاتی دوعاوی او صوابونه د هغه د پاره وکړی هرافغان می دهغه  دښی ځوانی او احسان په خاطرښه ایسی د ده باندارلانه و خلاص سوی چی زما ټاکلی ځای ته ورسیدم جیب ته می لاس کی هغه قسم واخستی چی زه ستا پیسی نه اخلم ما چی په جیب کی وکتل پام می سو چی پیسی می دکالوپه جیب کی هیری سوی دی ده ته می عرض وکړی چی زه غواړم بیرته هغه ځای ته ولاړسم چی راغلی یم د دواړو خواوکرایه به دی درکړم ده راته وویل چی ولی؟ ما ورته سپین رښتیا وویل زه لاندی ولاړوم ده جیب ته لاس کړی پنځه سوه تمنه یی لاندی راوغورځول ترموتریی ګیرلاندی کړی اوولاړ.
بله خاطره می د سمنګان د یوه ډیر پخوانی ملګری مولانا سید طاهرحیران سره ملیمستیاوه سید طاهرحیران چی د سمنګان اوسیدونکی دی دوی د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په زمانه کی څلوریاران وه یویی مولانا خسته صاحب چی د مزارشریف اوسیدونکی دوهم یی مولاناعشقری صاحب د کابل د پغمان اوسیدونکی واوبل یی مولانا حیدر صاحب د پنجشیراوسیدونکی وه دوی څلورواړه شاعران او د فکر او ادب خاوندان وه په هغه وخت کی چی زه په کابل کی مکتبی وم دا څلوریاران د کابل د چنداولو په سمیه کی چی هلته د عشقری صاحب یوه وړوکی غرفه وه کتابونه یی پوښول دوی څلورسره هلته کښیناسته او ډیرخوشحاله او سرشاره خلک وه ډیرښی ټوکی یی سره کولی او یوپه بل پوری به یی شعرونه ویل مولانا خسته صاحب په دغه وخت کی په پارلمان کی وکیل و کله ناکله به یی په پښتون ږغ مجله کی د ځوانمردانو په هکله لیکنی کولی زه یوه ورځ د څوکتابو د پوښولو د پاره ورغلی وم کله چی ما د دوی خندا ټوکی اوملګری ولیده همیشه به می یادیده او څو ځله کتابو پسی ورغلی وم اوهمیشه به می د دوی ډیرټوکی اوشعرونه اوریده کله چی د۱۳۵۷کال د ثورکودتا وسوه نه زه بندی سوم او بیا می  ددوی مالومات نه درلود کله چی په ۱۳۸۱کال کی کابل ته راغلم په وزارت معارف کی داستخدام رئیس مقررشوم اعلحضرت محمدظار شاه د روم نه کابل ته راغلی و زه یوه ورځ سهاروختی په د فترکی ناست وم یوه ملګری می یوسپین ږیری سړی راوست اوراته ووی ویل چی دغه اغا صاحب د اعلحضرت محمد ظاهر شاه ډیر پخوانی ملګری دی که وخت ورته واخلی چی ورسره وګوری ما ورته وویل چی څه نومیږی هغه راته وویل چی سید طاهرحیران صاحب، ماته دا نوم یوڅه شناخته مالوم سو فکرمی وکړ چی دانوم خواشنادی ډیرفکرمی وکړی ډیرزیات وخت تیرسوی وه د حیران صاحب نه می پوښتنه وکړه چی ماوتا چیری سره لیدلی دی؟ ده راته وویل نه می دی په یاد ماورته وویل چی عشقری صاحب دی پیژندی ده راته وویل هو هغه می ډیریارو موږ څلوریاران و یومولانا حیدرصاحب یو مولانا خسته صاحب اوبل مولانا حیدری صاحب وماته د دوی خاطری رایاد سوی نوبیا می ورسره دوهم ځل روغبړوکړ او د هغوی د احوال پوښتنه می وکړه ده راته وویل خسته صاحب اوعشقری صاحب مړه دی.
یوازی حیدری صاحب ژوندی دی ډیر ضعیف دی په سترګوچندانی نه وینی نوبیا مو د دوی د ځوانی اویارانی ډیری کیسی سره وکړی ما د اعلحضرت صاحب دفترته تلفون وکړ اوده ته می وخت واخیستی، تردی ورځی وروسته چی به کله کابل ته راتلی هم دفترته راتلی اوهم کورته د کورپته یی راکړه څه موده وروسته زه د ملګروملتو لخوا دیوه رسمی کار د پاره مزارشریف ته ولیږلم کله چی سمنګان ته ورسیدم دهغه ادرس می چاته وښود یوه دوکاندار د مولانا حیران یوکوچنی زوی راوښود اوهغه ته یی وویل چی دا ستا د پلارمیلمه دی کورته یی بوزه هغه زما سره راملګری سو په لاره کی می پوښتنه وکړه چی پلار دی څه کارکوی هغه راته وویل چی هیڅ کارنه کوی ماورته وویل چی وروڼه دی څه کارکوی هغه راته وویل چی هغوی زمونږنه جلادی په بل ځای کی اوسیږی یو ورور زمونږ سره دی کله ناکله روزانه مزدوری کوی نوپوښتنه ځینی وکړه چی مالداری لری؟ مځکه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

لری ؟ دوکان لری؟ اوکه موترلری؟ ده راته وویل چی زه زما یوبل ورور اوپلارسره یوځای یو نور وروڼه می جلادی خومور. هیڅ شی نه لرو یوازی زما د ورور خسر یوه وزه مور.ته راکړیده چی زما کوچنی وراره وری و موریی شیدی نه درلودی د هغه وزی شیدی ورکوو سهارسهارزه هم کله دهغه وزی شیدی خورم نورډیرغریبان یوپه تلوتلوکی می دهغه ټول حال ترلاسه کړی ډیرمی خوابده سوه چی کله کورته ورغلم هغه په یوه کنډواله کی ژوند کاوه یوه ځیری سترنجی یی په یوه اطاق کی هواره وه ډیرد فقری ژوند یی وه کله چی می د مولانا حیران سره ولیدل د هغه نه می خواهش وکړی چی زه ستړی یم ارام کوم ترچای وروسته می ارام وکړی کله چی غرمه یی د خوبه راکښینولم چی کتل می ده وزه حلاله کړیوه اوکبابونه یی پخول ماورته وویل چی دادی څه کارکړیدی هغه راته وویل چی زما دکندهار خلک ډیرښه ایسی کله چی خلقیان کامیابه سوه زه دسمنګان نه کندهارته وتښتیدم په کندهارکی یو عسکرونیوم کله چی یی د مانه یی پوښتنه وکړه زه نه پوهیدم څه ورته ووایم یوحاجی صاحب چی اوس نوم رانه هیردی هلته ولاړو چی زه یی ولیدم دا مسافردی دستی راغلی هغه عسکریی شناخته و زه یی ځینی خلاص کړم او د ځان سره ارغنداوته بوتلم اوهلته یی زما ډیرعزت وکړی څوورځی یی هلته وساتلم او وروسته یی پوښتنه رانه وکړه چی چیری ځی ماورته وویل چی زه دخلقیانونه رافراره یم غواړم ایران ته ولاړسم د ده یولوی بنس موټروپه هغه کی هرات ته ولیږم اوخپل موتروان ته وویل چی دی کله وایران ته واړاوه یوه نښانه به ماته د ده د خولی راوړی اوماته یی وویل چی ترڅو ایران ته نی اوښتی ماته نښان مه رالیږه پیسی اوکالی یی هم راکړه زه ایران ته ولاړم اوس چی هرکندهاری ووینم د زړه غوښی می پری پیرزووی ده راته کیسه کوله او د وزی نه کبابونه پخول اوماته به یی ویل چی دا وخوره چی دا هرګوله به می خوړل داسی فکرمی کاوه چی زه دځان غوښی خورم ډیرمی فکرخراب وه او د ده دکوره به چی به هرځل د ده دلمسی ژړا اوریده نو راته داسی معلومیده لکه زه چی داماشوم له پوسته کاړم دومره پیسی هم راسره نه وی چی هم خپل سفرترپایه ورسوم اوهم د ده لمسی ته وزه رانیسم سهاروختی می ورته وویل چی راځه چی مزارشریف ته ولاړسو زه نابلدیم ده دستی څپلی په پوښوکړی مزارته ولاړو اول روضی مبارکی ته ورغلو هلته می دعا وکړه چی خدایه دومره قدرت راکړی چی زه د حیران صاحب د ماشوم لمسی د روزی غم وخورم د مزارشریف په یوه هوټل کی اوسیدو خو دی دومره وفاداره وچی یوګړی نه رانه جلا کیده او داویره ورسره وه چی دی کندهاری دی اوپه مزارشریف کی د طالبانو او د مزار د خلکو ترمنځ په جنګو کی ډیربدی خاطری پاتی وی هلته زما په کاروکی څه مشکلات پیداسوه کابل ته می خپل امرته تلفون وکړ هغه د لخدارابراهیمی سلاکارو هغه رانه د حل لار وپوښتله پرخوله می راغله چی که مور. د دی ځای ځومشران اوسپین ږیری د ځان سره مقررنه کړو او یو مناسب معاش ورته ورنکړو دلته د سلاح ټولونی مشکلات د نورو ولایاتو په خلکونه حل کیږی هغه راته وویل چی نفرانتخاب کړه او د ځان سره یی راوله چی تلفون خلاص سو دځان سره می شکروکښي چی خدای پاک دی لکه چی خواست قبول کړی اول می د ده نوم په لست کی ولیکی او د ده د شناخت نه می ګټه پورته کړه په مزارشریف اوشبرغان کی می دولس تنه سپین ږیری وټاکل اوپنځه سوه ډالره معاش می ورته حواله کی د دوی نه می د سلاح ټولونی د څارنی (تفتیش کمیته). جوړه کړه کابل ته می راوسته د تنخوا ترڅنګ یی سفریه او کرایه هم ورکول کیده دوه کاله وروسته د ده په غوښته د هغه کورته د نورو انډیوالانو سره ولاړو ښه کوریی جوړکړی وه ډیرخوشحاله وه په هره هفته کی به یی راته تلفون کاوه اوماته به یی ویل چی هرماښام پردسترخوان سره راټول سو اول تاته دعا کوم کله چی د ده کیسه دلته لیکله هرځل چی به می د ده نوم په خوله راغلی دهغه تلفون به راغلی زه به حیران سوم چی داڅه پیښه ده خوپه ملی هنداره کی د مرد او نامرد کیسه به می رایادیده چی په مردی کی څومره برکت اوپه نامردی کی څومره ذلالت نغښتی دی د مردی او نامردی ترمنځ یوګام فاصله ده د مردانګی خواته یوقدم هم کښیښودل سی، ډیرڅه به وګټی اوکه د نامردی خواته ولاړسی ډیرڅه به بایلی ځینی خلک پیسی ګټی ځینی پیسی ګټی خوښه ځوانان هم پیسی ګټلای سی اوهم کیسی لکه پښتانه چی وایي:(میړونه مری نوم یی پاتیږی).

ډیروخت می دا هیله چی که نورنه وی نو دلوی کندهار کوڅو او دیرو ته ولاړسم او د خلکو د خولی اوسینونه د ښوځوانانو یادونه، نکلونه، شعرونه، لنډی، کاکړی غاړی اوخاطری د قلم ترژبه وباسم اوراټولی یی کړم. د بده مرغه نه یوازی زما بلکه زموږ د میلونوکسانو ځوانی هیلی تر خاورو لاندی سوی. او یا د پردو هدیرو ترڅلولاندی سوی دنامرده او ناځوانه او د پردو د جاسوسانو په لومو کی بندیان یو چی یوه زندی د غاړی باسو بله موغاړی ته لویدلی وی چی له یوی کندی راخیژو بلی ته لویدلی یو چی یواستعمارشړو بل موشاته ولاړوی په دی نسبت زما هیله لاتر اوسه هسی نیمګړی پاتی ده، خیر دی که موږ ښه ځوانان نه یو دومره ایمانداری خوباید ولرو چی داښکلی اومنلی مکتب چی زموږ دهری دیری او هدیری نه خشبویی راوالاړیږی او د دی اسلامی اوانسانی خصوصاً افغانی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مکتب ښوونکی اوزده کوونکی په هرکلی او دیار کی سته که دوی مړه دی خو پلونه یی لاورک نه دی کیسی اونکلونه لاژوندی دی زه ځوانو لیکوالانو ته خواست کوم چی راسی د دی اصیلی ښوونځی په کړکی سر ور دننه کړی د ښوځوانانو د یادونو باغچی ولټوی داسی ملغلری به لاس ته راوړی چی زړه به مو پری تازه سی ښه ځوانی ډیرساده مکتب نه دی هرخوا یی د اولیاو هرکاریی د پیغمبرانو ورته دی داسی خویونه هرڅوک نه سی درلودی ټول ښه ځوانان که مړه دی اوکه ژوندی دی پرموږ حق لری چی موږباید د دوی کړنی او ښوونی خپلو راتلونکو نسلوته چی تور تیارو یی مخ دی د یوی پاکی اوسپیڅلی اندیښنی په شکل ورنقل کړو ښوځوانانوخپل ژوند، مال اوسر د خدای د رَضا اوخلکوپه خدمت کی قربان کړی ولی د دی ستری قربانی سره سره ډیرمظلوم پاتی سوی دی د یوه وینی چښونکی وطن خرڅوونکی اوظالم اورشوت خواره په هکله ډیری ترانی ویل سوی دی ولی هغوی چی د ولس او خلکو خصوصاً مظلومانو،بی وزلو، مسافرو، کونډو او یتمانو وطن پالو ارمانجنو د زړه ملهم دی هیڅا یی حق نه دی ورپرځای کړی نه ډیرڅه پرلیکل سوی دی او نه یی یادونه سوی دی اصلی خبره خو داوه چی ښه ځوانی زموږ د میړنی کلتور یوه ډیره پراخه برخه ده او زموږ ټولنه یی ډیره ښکلی اورنګینه ساتلی ده باید چی زموږ په ښوونځیوکی د یوه رسمی مضمون په شکل هرزلمی ته ویل سوی وای که د ټولوسیمو ښه ځوانانو په هکله یی امکان کم وای نویوزده کوونکی باید د خپلی هیدری او دیری له کړو وړو خبروای یواساسی علت چی موږ د اوړدی مودی راهیسی په جګړه او نا خوالو کی ښتی یو دا دی چی زموږ پرسرډیرنامرده اوناځوانه خلک حکومت کوی که دولتونه زموږ دولس سره داپېره کوی چی زموږ ځوانان که نارینه دی اوکه ښځی د خپلو پلرو او خپلو تیرو ځوانمردانو او دهغو د کړونو ناخبره ساتی موږ خو باید دا جفاونکړو خیردی که تراوسه ځوانمرد دولت نه دی راغلی چی زموږ دا ارمان پوره کړی موږباید ځا ن که ښه ځوانان نه سوکیدای نو د ښوځوانانو د مکتب سره خو باید غفلت ونکړو اوپری نه ږدو چی زموږ د وطن د اصیلو او صادقوبچیانو هیلی او ارمانونه خاوری شی او یاد هغوی یادونه ورک سی.

دوهمه اساسی خبره داده چی موږ د خپلی فرهنګی زیرمی د ساتنی په هکله هم ډیرسخت مسؤولیت لرو که موږ دا پانګه خوندی کړو نو په حقیقت کی به مو راتلونکو نسلونوته ډیرسترخدمت کړی وی. خصوصاً دا کامیابی به هلته خونده وره وی چی موږ وکولای سو دا پاشلی مکتب سره راټول کړو او په علمی ډول یی پرمخ پرتی خاوری تری لیری کړو او د یوه ښکلی افغانی اسلامی او اخلاقی مکتب په شان یی د پردو ایدیولوژیو او کلتورنو سره د سیالی ډګرته راوړاندی کړو او دیوی انسانی مدرسی په ډول یی تدریس کړو که موږ په یوه دیار کی یوځوان هم د ښی ځوانی په پسول وپسولو زه باورلرم چه هغه کلی او دیار به ارام اونیک نام وی هلته به نه غل ورتلی سی اونه به څوک د چا حق خوړلی سی زه فکرنه کوم چی په ارغنداب کی دی د عبدالحکیم جان کاکو کلی ته د ده په ژوند کی غل ورغلی وی او یا دی په زوره چا دبل چا حق خوړلی وی د دی مکتب ښه والی په دی کی دی چی ترنظری اړخ یی عملی جنبه ډیره غښتلی ده که څه هم د ښوځوانانوهرخوی ډیری ژوری فلسفی، انسانی، اخلاقی اواسلامی ریښی لری خو ښوځوانانو په ډیرساده شکل د عمل جامه په اغوستی ده بله ښیګڼه یی داده چی دا د خارج نه نده وارد سوی هیڅوک ورسره حساسیت نلری اونه یی زده کړه ډیرګرانه ده یاده دی وی چی دهری ورځی په تیریدوسره د دی پانګی یوه برخه په خاوروکی ورکیږی دا یوازی فرهنګی زیرمه نده بلکه سیاسی هم ډیری ژوری ریښی لری که ښه ځوانان په میلمه پالنه کی ډیرګړندی دی نوپه وطن پالنه کی هم ورسره څوک سیالداری نه سی کولای که وفاداری کی تکړه دی نوپه راز داری کی هم وتلی خلک دی همدا اساسات او اوصول وه چی په نړی کی ترټولو لومړی اوښکلی سیاسی غورځنګ په سیستان اوخراسان کی د ځوانمردانو اوعیارانو په نامه منځ ته راغلی او ډیرستری حماسی اونکلونه یی ترشا پریښودلی دی. ځوان لیکوالان اوشاعران باید یاد ولری کله چی د روس یرغل زموږ د ژوند چاری ګډوډي کړی دی همداسی جګړو او کډواله ژوند زموږ فرهنګی زیرمی هم پاشلی دی راټولیده یی هم ګران دی اوهم آسان دی ګران په دی دا ښوونځی ته هیڅ خارجی ملاتړځان نه ټنګوی اوزموږ اوسنی موډ داسی دی چی په هرکار کی خارجی مالی ملاتړنه وی څوک ورته پام نه کوی خو آسانی دا ده چی د دی فرهنګ ټوکړی لکه کاکړی، غاړی، لنډی، ملتونه، شعرونه، نکلونه، کیسی، غزلی، یادونه په هرکلی او دیا رکی پراته دی پرهره لنډی پرهرمتل او هره کارنامه یی کتابونه لیکل کیږی یوازی راټولیده غواړی اوسره اوډل غواړی دامنو چی زموږ ځوانان نن ډیری ستونځی لری هغه باندارونه هغه میلی هغه اتڼونه هغه غیږی، جشنونه، هغه اخترونه، هغه ودونه، هغه شوکونه چی هغوته به ځوانان او د پیغلو ډلی ډلی په ډول او ډماموتله نسته او هغه خوشالی چی په لیدویی د ژوند نه خوند اخیستل کیدی باروتو سوځلی دی پرځای یی ناځوانی، او نامردی پری ایښی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرکله چی یوه ټولنه د خپل اصل نه جلا کیږی د داسی حالت سره مخامخ کیږی لکه چی موږ نن یو که زموږ د حکمرانانو او چارواکو د پردو د فرهنګ پرځای د خپل ابا اونیکه دښی ځوانی فرهنګ خپل کړی وای داغمجن ناورین به چا په سترګو نه وای لیدلی اونه به موږداسی خوار او زار وای ځکه دا خو ښه ځوانان دی چی دیوه قوم سرنوښت ته تغیرور کوی د یوه ملت په جغرافیی کی بدلون راولی د یو ولس د حرکت لوری بدلوی د یو وطن نوم لوړساتی د یو قوم د عزت شمله جګوی تاسی وګوری د ملالی یوی لنډی د میوند نوم دومره لوړساتلی چی دوی پیړی وروسته یی نوم واخلی اوریدونکی یی ټکان خوری همداسی په یو فتح خان بړیځی تراوسه دټولو بړیځانوشمله هسکه ده په یوه خوشحال دختکو سرلوړدی ولی په ناځوانه مشردیوه قوم دبخت ستوری ټیټیږی په یوه ناځوانه سرلښکرد یو دیوه لښکرغړی تښتی په یو ناځوانه ملګری دسړی ملاماتیږی په یوه ناځوانه دوست دسړی پزه پری کیږی چی دادی نن موږ ورسره لاس وګریوان یو.ددی لیکنی نه مطلب دانه دی چی ښه ځوانان هم دومره دی چی موږ وربانذی یادونه وکړه اونه هم دامکتب یوازی په کندهار پوری اړه لری د دی مکتب ریښی په مختلفوشکلونوپه ټول بشریت کی ځغلیدلی دی خو زموږ ټولنه کی ځکه ژوروالی لری چی اسلامی ښکلاهم ورسره مرسته کړیده د دی فرهنګی ټولونه نه دلندن کتابخانوته تلل غواړی نه دفاکولتو فراغت غواړی یوازی اونه مرسته ته اړتیا لری

د سیستان ریګونه غواړي ښه ځوانان بیا
کلابس غواړي بړیځی فتح خان بیا

د هلمند ډاګونه تږي دي پاڅون ته
میوند غواړي ملالی او ایوب خان بیا

شیرسرخ بیا ښاري د لویو جرګو لاري
آزادي غواړي میرویس او احمد خان بیا

د خوشحال توره به وباسي له تیکي
که د خاورو سر راوایست ایمل خا ن بیا

دا پردي سپاهیان به ورک شی له وطنه
که شپیتو بریځو نوی کړی پیمان بیا

دسرتیپ ارمان به هله سی ترسره
که راجوړکړی ښوځوانانو خپل کاروان بیا

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ